# "JARGA SYSTEM IN WAZIRISTAN"
# "وزیرستان کښې د جرګې دودونه"

**Shakar Ullah Ansari**[★]

**ABSTRACT:**

In order to understand Jirga system (council for elders) in Waziristan, it is necessary to have the knowledge of trible structure existing there. The society is hierarchically divided into families, sub-castes, castes, and tribes as the highest category, eg Wazir, Mehsod, Dawar, Urmer, Dotani and Suleman Khel are the major tribes dwelling in Waziristan. All these divisions and have their elders representing them in disputes or on government forums. The elders are usually vigilant, sane, hospitable and brave persons. These elders are at the same time decision makers, executers, and responsible for the maintenance of peace. Waziristan, unlike other territories, has never been completely controlled by colonial powers and thus largely remained autonomous. Due to this reason, Jirga has survived till this day. How does Jirga settle disputes, and/or what stages and procedures it adopts will remain the major theme of this paper.

داسې پښتون به نۀ وي چې چا د جرګې نوم نۀ وي اورېدلے. په ټوله پښتونخوا هغه که لره پښتونخواه ده او که بره ټول د جرګې له نامې ښځه اشنا دي. که په اوسني دور کښې نۀ وي خو د دوي د نيکونو په وختونو کښې به دغه جرګه عملي وه. هغه علاقې او منطقې چې پښتانۀ پکښې اوسي که حکومتي قانون نۀ وي نو هلته به دغه د جرګې قانون عملي ليدۀ شي.

"وزیرستان يوه داسې علاقه ده چې د کله نه په صوبه کښې ضم شوه ورسره ورسره د پوليس د چهاونو او عدالتونو نظام عملي کولو خبرې رواني دي خو تر اوسه يو مکمل طريقه

★ PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar

کار عملي شوے نۀ دے۔ د نن نه تقريباً څوارلس پنځلس کاله له مخه چې په وزيرستان کښې خلق مېشته وو۔ نړيوال حالات اثر انداز نۀ وو۔ چې کله نړيوال حالات دومره تېزى ته اورسېدۀ چې زمونږ ملکي فوځ د وزيرستان وګړي د وزيرستان نه په تلو باندې مجبور کړل۔ نۀ په وزيرستان کښې له دې نه مخکښې پوليس وو نۀ چهاونۍ وې او نۀ عدالتونه ، ټولې خپل منځې کشالې به د جرګې له لارې هوارېدلې ، هغه که د پټې ، بريد ، سيمې ، جائيداد ، وراثت ، ځنګل ، کاروبار ، د مړي او ژوبلې که هر قسم ورې او غټې معاملې ولې نۀ وي۔

که چرې مونږ د جرګې د تاريخ پحقله خبرې کوو چې دا جرګې له کومې زمانې نه عملي شوي دي۔ د دغې حد معلوم نۀ دي ۔د انسان د ټولنيز ژوند سره سره چې چرته انسان د يو بل د پاره خبر ښېګړې رسوي نو هلته انسانان د يو بل سره په شخړو د هوارۍ له پاره د هرې زمانې او قوم خلقو خپل داسې پوهه سپين ږيري مشران پيدا کړي دي چې د خلقو پرې اعتماد هم وي او پوهه هم لري۔ دغه سپين ږيرو ټولې د انسانانو تر مينځ شخړې له جرګې او د جرګه مارو په واسطې سره حل کوي د دوي په مينځ کښې روغې جوړې راولې۔

پخوا په عربو کښې د ستر عمر سپين ږيرو به د خپل قام د خبر ښېګړې او خپل منځې شخړې ورکولو له پاره به د هر قام سپين ږيري موجود ؤچې د خپل قام نمائندګۍ به ئې کوله دغې د سپين ږيرو ټولي ته به ئې شورٰى وئيله۔

داسې د پنچاى په نامه ټولي هم د خپل قوم جرګې او مرکې کار کوو۔ چرته چې اسلامي او ملکي قانونه عملي شول نو دغو شورٰى۔ پنجاى او جرګو خپل حېثيت پاتې نۀ شو۔

تـر اوسـه پـورې چې پښـتنو کښـې پـه عـمـومي ډول او پـه وزيرستان کښې پـه خصوصي ډول چې د جرګې اثـرات موجـود او عملي دي. وجه ئې دا ده چې دلتـه د بـل چـا حکومـت يـا قـانـون اثرات کم دي "۱"

## په وزيرستان کښې د جګړو بنيادونه:

انسان چونکې فرشته خو نهٔ ده. چې ټول خواهشات ئې ختم وي. انسان فطرتاً حاسد. ظالم کله کله د انسان خيال دومره محدود شي چې هغه دا سوچ کوي. "چې څهٔ يم خو زهٔ يم" د ځان نه بل تکړه ، هوښيار نهٔ ګڼي. په خپل ځان هر څهٔ لنډوي.

لـه دې نـه عـلاوه دا لانـدينۍ څو خبرې داسې دي چې پـه وزيرستان کښـې د پېړيـو راسې د يو بل سره د جنګ جګړو سبب جوړ شـوے دے. دلتـه زهٔ د يـو متـل پـه رڼا کښـې د دغو شخړو، لانجو، معـاملو، شـولانګو، بـادي ، بـادرانګې، دښـمني بنيـادونو تـه د رسـولو حڅه کووم.

"متل :"بادي يا پـه کـاڅې شي يـا پـه عـوراتي" پـه دې متـل کښې زهٔ د درو الفاظو معنٰى بيانووم.

(۱) بادي (په وزيرستانۍ ژبه کښې دښمنۍ ته وائي)

(۲) کاڅي (زمکې، پټي ، جائيداد ته وائي)

(۳) عوراتي (د اردو ژبې لفظ عـورت چې پـه پښـتو کښـې ورتـه ښځه وائي)

د دې متـل نـه مـونږ پـه دغـې خبـرې اورسـېدو چـې پـه وزيرستان کښـې د جګړو دوه غټ بنيادونه دي. (۱) جائيـداد (۲) ښځې.

زهٔ خو به دا هم اووايم چې د زمکو ، جائيداد په بنياد اکثر جګړې رامنځ ته کېږي او په خصوصي توګه پـه وزيرسـتان کښـې د دغې قسم جګړو پېښې ښخي زياتې دي خو زمـا پـه ذهـن کښـې د دغې قسم شخړو نور بنيادونه هم شته. "۲"

## په قوم محسود او وزير کښې د جوړې پحقله توپير يا ځانګړتيا:

د شجرې په لحاظ که اوکتے شي محسود او وزير د يو نيکهٔ اولاد دے. د محسود د وزير کړوسے دے. محسود قوم په جنوبي وزيرستان کښې استوګن دے. په درې اطرافو ئې وزير قوم په پله پروت دے.

چې کله ما د وزيرستان لوے عالم او منصف (جرګه مار) چې تقريباً ۵۰۰۰ (پنځهٔ زره) مقدمې ئې فېصلې کړې دي. مولوي غبن الله سره د روغې جوړې پحقله معلومات کول نو د ذکر شويو قومونو تر مينځ د روغې جوړې پحقله د اختلاف يو څو غټ ټکي ماته اوکړل.

"(۱) د محسودو او وزيرو تر مينځ د مړي د معاملې (شخړې) پحقله غټ توپير دغه دے چې وزير صرف او صرف د مړي د بدل اخستو په وخت هغه کس وژني چې چا قتل کړے وي. خو د مړي د بدل اخستو پحقله محسود اصل قاتل نه بلکې د قاتل اولاد او کورنۍ کښې تر ټولو ښهٔ او تکړه سړے وژني.

(۲) د وزير قوم فېصله پخه وي. چې يو ځل جوړه اوکړي بيا د فېصلې د پاسه د مړي بدل نهٔ اخلي.

محسود قوم د دښمن د اعتماد د پاره جوړه اوکړي خو چې کله ئې موقع برابره شي په فېصلې د پاسه هم د مړي بدل اخلي.

(۳) وزير قوم چې د محسود په مقابله کښې د ډېرو شتو وسائلو خښتن دے. دښمن سره په معامله کښې ډېر زيات خرچ کوي. معامله اوږدوي ورسره ورسره په منصفانو کښې يو دوه کسان په اعتماد کښې واخلي د هغې نه لارښودنه او مشوره اخلي عبن د فېصلې په وخت ئې په يو خفيه ځاے کښې کښېنوي چې د فېصلې ملګرو او دښمن ته پته نهٔ اولګي "۳"

په محسودو کښې که پاسنۍ ذکر خبرې په جزوي لحاظ سره خو په عمومي لحاظ ډېرې کمې دي.

## جرګې سره تړلي وزيرستاني اصطلاحات:

لکه څهٔ رنګې وزيرستان يوه ځانګړې علاقه ده هم هغسې په دغې علاقې کښې د روغې جوړې ځانګړي اصطلاحات دي. هغه جرګې مار او اولس چې د معاملو سره ئې سر وي. هغه په دغې اصطلاحاتو ډېر په اسانۍ سره پوهېږي. خو هغه خلق چې د دغې علاقې سره ئې تعلق نهٔ وي په دغې اصطلاحاتو نهٔ پوهېږي. وجه ئې دا ده چې د هر ځائے خپل ځانګړي اصطلاحات وي. د دغو اصطلاحاتو کښې د پوهې د پاره ما د ملکانو صاحبانو په مرسته وضاحت کولو کښې بريالے شوم. په دې حقله ما د شمالي وزيرستان رزمک سيمې ملک شاه بهرام سره مرکه اوکړه.

"دا نهٔ صرف د جرګې اصطلاحات دي بلکې دغه د جرګې تر ټولو نه مهم عناصر او اجزاء دي. دا هغه عناصر دي چې د جرګې د شروع نه را واخله تر اخره پورې د يوې مرحله وار او ترتيب وار کړۍ روانه سلسله ده. چې اختتام ئې د جوړې په شکل کښې را څرګند شي. بلکې دغه عناصر هر يو ځانته پخپله د يوې پوهې او د علم نوم تر ټولو ګران کار پکښې دغه دے چې جرګه کوونکي جرګه مار په دغې باندې پوهه شي چې اوس د فلانۍ مرحلې وار دے. چې کله هغه مرحله ختمېږي بيا پوهه شي چې اوله مرحله خو سر ته اورسېده اوس دوېمې مرحلې ته ځان ور رسول يا برابرول دي. د ګڼ شمېر مرحلو نه روستو د روغې اخرنۍ مرحلې ته رسول دي. د مرحلو موقع پېژندنه او د هغې اطلاق عملاً ډېره تجربه غواړي. د دغې علم پوهه او سر ته د رسولو په علاقو کښې په شمېرلو څو کسان وي چې د ضرورت يا په دغې مرحلو کښې د ستونځې يا ګډوډې په صورت کښې د هغې مشهور او معروف سپين ږيري نه هر څوک ځان پوهوي. په روغه جوړه کښې په يو وخت باندې عملي کار کوونکي دوه ټولي وي ، يو پکښې د استاذانو حېثيت لري او بل يا نور وارهٔ وارهٔ ټولي د شاګردانو په حېث تازه تازه او کم تجربه لرونکي په حېث خپل کار کوي.

قبائلي نظام ډېر کامیاب او مؤثر ځکه دے چې په دغې کښې د هر قوم ، قبیلې او شاخ هغه پوهه زیرک او خدا ے ورکړیو خوبیو مالک د خپل قام، شاخ یا خېل د نمائنده په حېث کار کوي ـ چې کوم د خپل قوم ، قبیلې او خاندان مشر بللے شي هغه د دغې علم، اصطلاحات او مرحلو نه ښهٔ پوهه لري او د یو ډېر تکړې تجسس په لټون کښې هر طرف ته ګوري چې خپله تنده پرې ماته کړي "[۴]

## یوربالي:

د څېړنې په وخت چې کله زما مرکه د شاه حسېن سره اوشوله ـ نو دوي د یوربالای پحقله ماته ډېر په زړهٔ پورې معلومات راکړل ـ

"په وزیرستانۍ ژبه کښې اور ته یور وائي مطلب دے د اور بلونکي مقصد ترېنه د کورونو تعداد او شمېر دے ـ

وزیرستان کښې چې قومي معاملې راشي د بل قوم سره دومره بدي نهٔ کوي تر څو پورې چې د دغې خبرې پرېکړه نهٔ وي شوې چې مونږ په څو کوره دغه بدي کوو ـ

دا ځکه د بدۍ نه اول شمېري چې بله ورځ حساب کتاب ډېر واضح وي ، په خپل مینځ کښې د جګړو نوبت نهٔ راځي ـ د بدۍ هېڅ پته نهٔ لګي چې کله په بدۍ کښې مرګ ژوبله اوشي نو هلته پته لګي په بدیو کښې ګټې کمې وي او تاوانونه زیات وي ـ ګټه ئې په دې صورت کښې وي چې کله په کومه خاوره د مخالف فریق سره اوجنګېږي که چرې دغه خاوره چې دوي (فریقېن) په خپل مینځ کښې پرې جنګېږي د فېصلې په وخت یو فریق ته زیات ورکړے شي ـ چې کله هم هغه فریق چې زمکه ، خاوره ، ډوګ ، غار ، راغزای او مانځه وغېره په جنګ نه روستو د فېصلې په صورت کښې ګټلې وې د هغې تقسیم په

دغـو کورونـو بانـدې کـوي چـې د بـدۍ کولـو نـه د بـدۍ د پـاره شمارل شوي وي"۵"

## طيغ توفيق:

په وزيرستان کښې هر څۀ د يوربالي په حساب کېږي. هر قام چې د بل قام سره ئې شخړه راشي. خبره تر جنګ پورې لاړه شي. په دغې کښې چې کومو کورونو مرسته او مدد د کوم قوم سره وي د دغې قوم په طيغ توفيق کښې شامل بللے شي. په دې حقله ما د ايډوکېټ خان ولي سره مرکه اوکړه:

"په وزيرستان کښې په هر کلي کښې يو دوه دغه شان تر لسو او شلو کورونو پورې کورونه په يو قوم کښې د بل قوم موجود وي. دا قوم چې ستر قوم وي پکښې موجود څو کوره د بل قوم د دغې ستر قوم سره داسې تړلے وي لکه د دغې ستر قوم خپل وګړي په قوميت به د بل قوم وي خو که دغه قوم ته څۀ نفع نقصان رسېږي نو دغه د بل قوم څو کوره هم په دغې کښې حسابېږي. د ستر قوم سره د بل قوم څو کوره د طيغ توفيق په بنياد باندې د دغې قوم سره تړلے وي.

لکه څنګه ئې د الفاظو پته لګي. طيغ وائي اسلحې ته او توفيق وائي مرستې کولو ته مطلب دا شو چې په يو ستر قوم کښې استوګن د بل قوم څو کورونه د دغې ستر قوم سره په هر څۀ کښې ګډ وي که بدي وي د بل قوم سره نو په ستر قوم کښې دا څو کوره د بل قوم سره دغسې مرسته او نقصان ته د يوربالي په حساب غاړه کېښودلې وي لکه څۀ رنګه دغې ستر قوم په خلقو کښې په خپل مينځ کښې موجوده وي. له دې نه علاوه چې څوک د ايجنسۍ ډومېسائل جوړوي په يو طرف پاڼه باندې يو حلفيه بيان وي چې د قوم مشران ئې تصديق کوي هغه څۀ په دا ډول وي. زۀ د ځان مثال پېش کووم. نمونه:

اکثر د قوم او کلي مشرانو ته د دغې خبرې علم ضرور وي چې زمونږ سره په طيغ توفيق کښې څوک شامل دے.

د طيغ توفيق په بنياد يو کس په بل قوم کښې د نيکات ښښتن هم جوړيدے شي.

۱) يوربالي

۲) طيغ توفيق

چې کله يو قوم بل قوم ته ځان په هر لحاظ پوره کړي او مخالف قوم هم خپلې دغه تيارئ کوي که په داسې وخت کښې څۀ مانځ غوړي (د دواړو تر مينځ جوړه راوستونکي) که ګرځي د هغې په واسطه مخالف فريق ته ځواب اوکړي چې بدئ له ځان رابرابر کړه. خبره ځواب ګيري شي (بدي). دغه فريقين يو په بل همېشه د وړو بچو يا زنانۀ په واسطه يا د يو داسې کس په واسطه چې هغه په دغې دواړو قومونو کښې ګرځي د يو حال بل ته او د بل حال بل ته په خفيه طريقې سره ورکوي. چې کله يو قوم د مورچو جوړول شروع کړي او د مشرانو ورته وښا شوې وي چې شاباس ځوانانو تکړه شئ چې په شپه شپه کښې مورچې جوړې کړئ سحر چې کله دومره رڼا شي چې زخه شاخېژي (د ټوپک نشانه ليدلے شي) بيا ډرې پرې کوئ مخالف فريق جوړول اووينې يا خبر شي هغه هم خپلې مورچې جوړې کړي. د سحر د رڼا سره يو په بل باندې ډزونه شروع کړي. کله کله خو د فائرنګ دغه تبادله ډېره تېزې واخلې خو د ډزو کولو د پاره د سحر وخت ضروري نۀ دے. کله کله د بدئ ډزې د شپې په وخت شروع شي هغه ډېر هېبت ناک وي. د نزدې علاقو خلق د خوبونو رابېدار کړي. په دې کښې چې مخالفين کله يو په بل باندې د روښنائ کاړتوس يو په بل چلوي د نزدې علاقو کتونکي په زړونو کښې د امن راوستو جذبه راپورته شي "۲"

## ګوش:

"چې کله هم دوه کسان دوه قبيلې او دوه حريف په خپل مينځ کښې په جګړه اموخته شي د دوي په مينځ کښې دغه جګړه تم کول يا جګړې ته نۀ پرېښودل چې په خپل مينځ کښې زيان او تاوان يا مرګ ژوبلې ته نوبت نۀ شي را ته ګوش وائي. په نورو الفاظو کښې جګړه ماران د جګړې نه منع کول.

## د ګوش طريقه:

چې کله د دوه قومونو تر مينځ د ډزو آوازونه د خوا او شاه علاقو د خلقو غوږونو ته را اورسېږي. نو د هر چا په ژبه دا الفاظ وي "خدا ے دې د خېر فرښتې راکوځې کړي"

په داسې وخت کښې د قوم هغه مشر چې د خپل قوم نه علاوه ئې په نورو قومونو باندې هم ښۀ اثر وي. ښۀ پوهه او نوم لري. د جرګو د مرکو ،د قبائلي روايـاتو اقدارو ، دود دستور، تاريخ ، د ټولنې او ټولنيز ژوند نه ښۀ خبر وي هغه لښکر جوړ کړي. ډولونه درزېږي چې د خوا او شا علاقو خلق چې څوک د ډول دغه آواز اوري نو پوهه شي چې د دوه قومونو تر مينځ روانې جګړې ته څۀ لښکر جوړېږي. د خدا ے د رضا د پاره خلق ډېر په شوق او مينه ورته راځي او د لښکر د کسانو شمېر ډېر په تېزۍ سره زياتېږي. چې کله د لښکر شمېر ښۀ برابر شي په داسې وخت کښې هغه مشر يا ملک چې په سر کښې ئې ما ذکر کړے دے. د لښکر خلقو ته مخاطب شي او څۀ په دا رنګ خبرې اوکړي.

"او خلقـو!!! بـدي د خـدا ے قهـر دے. خـدا ے دې هـر مسلمان ترېنه بچ ساتي. ما ټوله شپه خوب نۀ دے کړے او د ستاسو به هم دغه حال وي. د کوم وخت نه چې فريقېن يو په بل ډزې شروع کړي. زۀ د سخت ځور (پرېشانۍ) سره مخامخ شوم

ولې چې د بدۍ دغه ترخې ورځې ما هم تېرې کړې دي یقیناً په دغو خلقو به سخت تکلیف تېرېږي"

یو متل :"سوځي هغه ځاے چرته چې اور بلېږي"

راځئ چې د الله د رضا د پاره د دوه مسلمانانو د یو بل نه د خلاصېدو په غرض چې ورشو الله دې زمونږ مددګار شي۔ اوس داسې اوشي چې د دغه لښکر نه دوه ډلې جوړې کړي۔ د یوې ډلې مشر اکرم او د بلې ډلې مشر ګل محمد اوټاکل شي۔ د هرې ډلې سره به د لښکر نه علاوه لس لس کان ښۀ تکړه او چابک موجود وي۔ یو مشر به د یوې قبیلې مورچو ته ځي او بل مشر به د بلې قبیلې مورچو ته ځي۔ ډولونه زور واخلي۔ خلق په ډېر جوش او جذبې سره مورچو ته ورسېږي چې ډز بندي اوکړي۔ لښکر په دغو فریقېنو باندې متل شي۔ فریقېن ورله پسونه حلال کړي۔ ښۀ درنه او عزتمنده ډوډۍ پرې اوخوري۔ د لښکر سر براه مشر یا ملک اور ورسره نور مشران یو فریق ته ورشي۔ د جګړې مختصر وجوهات ترېنه معلوم کړي۔ لا بل (دوېم) فریق ته تللي نۀ وي د یو فریق نه ئې بیان اورېدلے وي چې د اول فریق بیان داسې یو اثر لري چې اورېدونکے دغه محسوس کړي چې ګنې دغه خو بالکل صحیح خبره کوي۔ هېڅ ګناه او ملامتیا نۀ لري۔ خو هوښیار مشران د اول فریق نه په دغې متل سره رخصت شي۔

- یوه خولۀ ګلالې وي
- خپله غلطي د دوه ولیو مینځ دے

بیا د بل دوېم فریق نه د بیان اورېدو په نیت روان شي ،چې کله د دوېم فریق بیان واوري ،بیا د دواړو فریقېنو مشران یو مشترک ځاے ته را اوبولي۔ دلته دوي موقعې ته ګوري که د یو بل سره په یو ځاے کښېناستلو کښې څۀ خطره نۀ محسوسېږي نو دواړه په دغې مشترک ځاے کښې

کښېنوي. هغه مشران چې د دوي تر مينځ ئې ګوش کړي وي د بدی، د انجام پحقله ورته د نقلونو (متلونو) په ژبه کښې اووائي:

- ❖ کاڼه کاڼه ژاغ نۀ کو
- ❖ د خولې يورخينه ته راسي

د ډېر نصيحت نه روستو ورنه د معياد مطالبه اوشي. او فريقېنو ته اووائي چې هر فريق په خپل مينځ کښې په معياد راکولو باندې سر صلاح اوکړئ. اول خو فريقېن معياد ورکولو ته تيار نۀ وي. او که تيار هم شي د کم وخت په ورکولو باندې آماده وي. په دې خبره د کافي بحث نه روستو فريقېن معياد ورکولو ته تيار شي. چې فريقېن معياد ته تيار شي د هغې نه وروستو د شوينې مطالبې ترېنه اوشي "[۷]

## شويناى څۀ ته وائي؟:

چې کله د فريقېنو تر مينځ يوه توده جهګړه روانه وي. په دغه وخت کښې منصفان د روغې جوړې د پاره تر ټولو اول "واک" غواړي. چې کله فريقېن واک ورکړي په هغې نه د روستو د شوينې مطالبه کېږي. ځينې خلق شويناى ضمانت ته هم وائي. په شمالي وزيرستان خلق شوينې ته برآمته وائي. په دې حقله ما خان زمان صېب سره مرکه اوشوه.

"شويناى د وزيرستانۍ ژبې لفظ شول نه جوړ دے. شول مطلب يو څيز محفوظ کېښودلو ته وائي. د شوينې بل نوم ضمانت دے کله چې په دوه قومونو کښې توده جګړه روانه وي د دواړو فريقېنو تر مينځ د ډزو تبادله کېږي عېن په دغې وخت چې د بل قوم لوے لښکر چې په عام اولسي خلقو او په پوهه مشرانو باندې مشتمل وي. د فريقېنو تر مينځ ډز بندي اوکړي او بيا په معياد هم سره آماده شي د هغې نه وروستو د شوينې مطالبه اوشي. د فريقېنو د منصفانو له طرفه يو خاص مقدار د روپو مقرر شي او د فريقېنو نه ئې وصول کړي. بيا منصفان ورته ډېر په کلکه

دا خبره اوکړي. که کوم فريق د معياد په دغه دورانيه کښې خلاف ورزي اوکړه دغه د ضمانت روپۍ به ترېنه ضبط کېږي. د قطبي وزيرستان د رزمک سيمې د دوو مشرانو ملک بادام ګل ،ملک شاه بهرام سره ما مرکه کوله نو هغوي دا خبره اوکړه چې مونږ د شوينې د پاره د برآمتي لفظ په استعمال کښې راولو "[۸]

## معياد:

د څېړنې په وخت چې کله زما مرکه د مير نواز شاميرای لدها سره اوشوله. د هغې نه ما هغه خبرې چې په وزيرستاني دود دستور کښې موجودې دي. ډېر په زړهٔ پورې بحث اوکړو. خو د معياد پحقله دوي ډېر خوندور معلومات ماته راکړل. د معياد سره اړوند ټولې خبرې ئې د جدا جدا سرخط په شکل کښې ماته پېش کړي.

"د معياد د پاره "وخت ، ژمنه او ټيم" لفظ هم په استعمال کښې راځي. کله چې په دوه فريقېنو کښې روان تود جنګ بند شي او ډزبندي اوشي. په داسې وخت کښې هغه مشران چې دغه ډز بندي ئې کړې وي. د فريقېنو نه معياد يا وخت غواړي. په دغې وخت کښې مشران د فريقېنو تر مېنځ د فېصلې د حل لارې لټوي. که چرې فريقېن په معياد ورکولو اماده شي نو د فريقېنو تر مېنځ د جوړې څهٔ اميد هم ښکاره شي. په داسې موقع مشران دغه متل وائي "وريځ دې ورهٔ علامه دو"معياري لهجه "وريځ د باران نخښه ده"" [۹]

## پاختان:

د څېړنو د پاره زهٔ چې کله مانو څلے کلي جنوبي وزيرستان ته لاړم. هلته مې د مير سلام سره يوه ډېره معلوماتي مرکه اوشوله. په حقيقت کښې مير سلام صېب ماته ټولې خبرې ډېرې صفا په ساده الفاظو کښې او پرېکړېې پرېکړېې اوکړلې. د پاختان پحقله دوي داسې اووئيل چې:

"د پاختان لفظي معنٰی ده څهٔ پخول پخلے کول. په اصطلاح کښې د پاختان نه مطلب دا دے چې کله د فريقېنو تر

مینځ منصفان لګیا وي په دواړو فریقینو کښې د معاملې د حل کولو په غرض راغلي وي نو دغو منصفانو ته د ډوډۍ انتظام د فریقینو ذمه واري وي. عموماً طریقه داسې وي چې منصفان د سحر ډوډۍ د یو فریق سره خوري. هم د دغې فریق نه د معاملې پحقله ترېنه ځان خبروي. د شخړې عوامل لټوي او ورسره ورسره د سحر ډوډۍ هم د دغه فریق سره وي. چې ورځ تېره شي ماسپښین شي بیا دغه معرک ځن دوېم فریق ته لاړ شي. د اول فریق غوندې دوېم نه هم د معاملې په متعلق خبرې اترې د معاملې بنیاد او د معاملې په هوارۍ باندې مشغول وي. او د ماښام ډوډۍ په دوېم فریق باندې اوخوري.

کله داسې هم اوشي چې د مرکځنو تعداد زیات وي. هغه کسان په دوه ټولو کښې سره تقسیم شي. یو ټولے د یو فریق سره او بل ټولے د بل فریق سره سحر او ماښام د دواړو وختو ډوډۍ خوري.

په وزیرستان کښې د منصفانو (مرکځنو) د پاره فریقین ښۀ درنه ډوډۍ کوي. ورته ښۀ مزېدار څاربۀ پسونه مژون (ګډان) او وزون (چېلۍ) حلالوي[۱۰]

## خره:

په وزیرستان کښې د جهګړو سره اړوند خرۀ ډېره خطرناکه اصطلاح ده. چې اکثر د مرګ ژوبلې واقعې پکښې یقیني وي. خره په اصل کښې یو چېلنج دے. که د زمکې په یوه ټکړه باندې نوبت تر خرې پورې را ورسېږي. نو دغه ډېره خطرناکه خبره وي. د خرې پحقله د معلوماتو د پاره د فضل رحمان خبرو ته متوجه شئ:

"که د لفظي معنې په لحاظ ورته اوګورو نو خره د خر مؤنث دے. د اصطلاح په لحاظ "Challenge" دے. کله کله داسې اوشي چې د فریقینو په مینځ کښې چې په کوم ځاے تنازعه وي. دواړه ئې قوي دعوې کوي. یو فریق ډېر په ټینګه سره

وائي چې دا ځاے زمونږ ملکیت دے خو بل طرف ته بل فریق هم په ډېره ټینګه سره دعوی کوي چې دا ځاے زمونږ ملکیت دے. د دعوو دې سلسلې داسې شکل اختیار کړے وي چې پکښې یو حریف خپل بل حریف ته اووائي که چرې دا ځاے د ځان ملکیت بولئ او ځانونو ته تکړه او پیاوړي وایئ نو ستاسو او زمونږ تر مینځ به دغه خرۀ وي چې تاسو به سبا دغې ځاے ته راشئ. چې کوم فریق چېلنج یا خره ورکړې وي د هغه فریق کسان د ټوپکو او اسلحې سره د بل فریق په انتظار کښې تیار ناست وي چې کله د چېلنج شوي فریق کسان د تنازعې ځاے ته را اورسېږي فوراً تیار ناست فریق پرې ډزې شروع کړي او په بدل کښې د ځان د دفاع د پاره چېلنج فریق هم ډزې اوکړي. چې (جګړ) ګرمه شي چې د چا د مرګ ژوبلې قسمت پکښې لیکلے وي هغه مړۀ او زخمیان شي.

خره ډېره خطرناکه خبره ده. او نتیجه ئې کافي مرګ او ژوبلې ته رسي. چې کله څوک یو کس یا فریق سره خره کېږدي مطلب چېلنج ئې کړي د دغې دوه صورتونه دي. یا به دَووسي کوي او یا به توره کوي. دَووسي کول د پښتون په خمیر کښې نشته توره کولو ته هر سړے جوګه او تیار وي. یو متل :

وزیرستانی لهجه: "واطن په مرګي ګوټۀ شي"

معیاري لهجه: "وطن په مرګ ګټلے شي"

مطلب ئې دا دے چې کوم ځاے یا د زمکې ټکړه څوک ګټل غواړي د هغې د پاره د سر قرباني ورکول ضروري ده.

یوه بله قبائلي عقیده دا ده چې د چا نه څوک ځاے ګټي نو هغه ئې هسې په غورو (دهړکو) او په خبرو بل ته نۀ پرېږدي یا به ځان پرې وژني او یا به بل وژني. د ځاے د معاملو نه علاوه په نورو معاملاتو کښې هم خره پېښېږي.

یـاد لـرئ دوه خبـرې زمـونږ د پښـتنو پـه ټولنـه کښـې د جنـګ او د مرګ غټې علتونه دي۔

۱) پېغور
۲) خره "۱۱"

## میروث:

د ښېړنې په خت د شخړو سره اړوند وزیرستاني اصطلاحاتو پحقله زما مرکـه د یـو سپین ږیري مزمل خان سره اوشوله۔ د میروث پحقله دوي ماته پوره په تفصیل سـره لانـدینے بیان اوکړلو۔

"میروث پـه درې ډولـه یـادېږي۔ پـه اول ډول کښـې کـه د یـو کس اولاد نـهٔ وي او یـا ئې څوک اولاد مـړ کـړي دغـه کس بغېـر د اولاد نه مړ شي نو دا وئیلے کېږي چې د فلاني میراث شولۀ۔

پـه دوېم ډول کښې که د چا خپل اولاد هم نهٔ وي او هغـه مـړ شي د هغې زمکې جائیداد پاتې شي ته هم میروث وائي۔

کله کلـه میـروث د جائیـداد پـه متـرادف کښـې هـم یـادېږي فرض که د یو سړي مزکه موجوده ده ، او هغه مړ شي اوس ئې کـه زامن وائي چې دغه زمونږ د پـلار میـروث دے دلتـه د جائیـداد پـه معنٰی کښې راغلې ده۔

یو قسم میروث داسې هم وي چې حاسد تربرونـه یـو کـس څکـه مـړ کـړي چې د دغـې جائیـداد بـه مـونږ تـه پـاتې شـي۔ پـه شعورتي او پـه منصوبه بندۍ سره د جائیـداد پـه لالـچ کښـې د یـو کس او د هغـې ټولـه خېلخانـه (ښـځې او بچـي) وژلـو تـه میـروث وائي۔ د دغې بل نوم خېئي دے "۱۲"

## د ګرامې ژاغ:

چې کله منصفان د فریقینو تر مینځ په یو معامله باندې لګیا وي اخر دغه حال ئې شي چې د دواړو فریقینو تر مینځ د حل څۀ لاره نۀ جوړیږي. د منصفانو څو څو ډلې پرې تیرې شي. کافي پاختان او نقصانو پرې اوشي په دې کښې مړي او ویشتیني (زخمیان) پکښې اوشي. دواړه فریقین د یو بل سره داسې په ضد شي چې یو هم د خپلې خبرې نه نۀ اوړي په خپلو خبرو ټینګ وي. د حل لاره پکښې نۀ پیدا کیږي. په داسې صورت کښې د منصفانو نه څوک ګیله نۀ کوي خو خلق او فریقین دا توقع ضرور کوي چې کوم یو فریق ګرم دے. په هغې دا د ګرمې ژاغ اوشي. اکثر په فریقینو کښې هغه فریق چې په حقه وي. د منصفانو نه په کلکه د دغې خبرې مطالبه کوي چې تاسو ته کوم فریق ګرم ښکاري په هغه فریق د ګرمې ژاغ اوکړئ. منصفان اکثر په داسې قسم مطالبې خپله خولۀ چپ ساتي. که چرې داسې منصفان وي چې هغه په حقه وینا نۀ خفه کیږي. بیا ګرم فریق ته په څرګنده اووائي چې تاسو ګرم یئ غلطه مۀ کوئ. ظلم او زیاتے مۀ کوئ.

"د دغې حق خبرې اثر که په ګرم فریق اوشو نو په داسې وینا سره په خپلو ځانونو کښې لچک پیدا کړي. د صلحې او جوړې د پاره لاره جوړه شي. او که د حق وینا څۀ اثر اونۀ کړي بیا په داسې صورت کښې مخالف فریق ته دوه لارې پاتې شي.

- ❖ زور زیاتے قبلول
- ❖ توکل په الله

زور زیاتے قبلول: خدا ے دې څوک دومره نۀ کمزوري کوي چې د ظالم د زور او مقابلې توان او طاقت په خپل ځان کښې نۀویني. زړۀ ئې سوځي خو هیڅ کولے نۀ شي. که په ټولنه کښې څوک هم په کمزوري باندې ظلم کوي او هغه خلقو باندې هم یوه ورځ بل ظالم شي راتلونکي نسل ئې کمزورے خوار او ذلیل وي. په وزیرستان کښې ډیر داسې واقعات موجود دي چې د ظالم د ظلم نه مظلومان ځوریږي خو د مدد او مرستې ئې څوک نۀ وي.

بل طرف ته چې په يو مظلوم باندې د ظالم ظلم سېوا شي هغه دغه زور ظلم او زياتے نۀ شي برداشت کولے. اخر په دغې خبرې اماده شي که څۀ هم اوشول خو ظالم ته د ظلم جبر او غرور په مقابله کښې له ځانه تېر شي. او دظالم خلاف عملياتو ته پخه او کلکه اراده اوکړي او توکل په الله ته تيار شي.

توکل په الله: د وزيرستان په رواياتو کښې دا خبره موجوده ده چې کله د يو ظالم ظلم د حد نه سېوا شي په داسې حالت کښې مظلوم د خپل سر نه تېر شي. د دښمن د زور ظلم او زياتي په خلاف يو داسې عمل ته تيار شي چې د ظالم تکبر مات کړي او داسې سبق ورته اوښائي چې ټوله نړۍ پرې اوغړېږي. نومتل دے چې "خوار خدا ے کړي بېغېرته چا کړې" مطلب ئې دا دے چې که يو کس مالي لحاظ سره کمزورے وي خو د هغۀ غېرت خو د دۀ سره تعلق لري. د دغې غېرت له برکته څوک هم د بل زور ظلم نۀ شي برداشت کولے "۱۳"

## ننواتې:

د ننواتې پحقله د مير سلام صېب دغه کوټلي الفاظ چې:

په وزيرستانۍ لهجه کښې "خوژه پېغور آغه تَخم دای چې معاملې جوړاوي او ننواتيې اغه لور دای چې معاملې ربېي" زما د ذهن نه نۀ ووځي. د هغوي د خبرو تفصيل په دا ډول دے:

"په ټولو پښتنو کښې د ننواتې رواج شته. او تر اوسه پورې موجود دے. د پښتنو په ټولو دودونو کښې ننواتې يو واحد دود دے چې د کوم په وسيلې سره د سختې نه سخته او مشکلې نه مشکله معامله حل کېږي. او د دوه کسانو يا د دوه فريقېنو تر مينځ شخړه ختموي.

که د ننواتې زۀ په مختصر نه مختصر تعريف کول غواړم نو "ننواتې د خپلې غلطۍ تسليمول او د بل غصه سړولو ته وائي"

د پښتنو په ټولنه کښې چې څوک د ننواتې قدر کوي خلق ورته په درنه سترګه ګوري. انسان ډېر کمزورے او عاجز دے په جذباتو کښې راشي د شېطان پرې غلبه شي غلطي اوکړي. د انسان د دغه قسم غلطۍ بل انسان د ننواتې له لارې معاف کړي. بد زړونه خوشحاله کړي. د راتلونکي فساد او بدي د پاره د مخ نيوي کار اوکړي.

## د ننواتې قسمونه:

په وزيرستان کښې چې کوم قسمونه د ننواتې موجود دي هغه به ټول په ګوته کووم او د هغې تفصيل به هم بيانووم.

- ❖ د ګرامې ننواتې
- ❖ د مدد طلبۍ ننواتې
- ❖ د قبر ننواتې
- ❖ د ښځو ننواتې
- ❖ د خېر د جوړولو ننواتې

## د ننواتې طريقه کار:

هر کله چې چاته داسې کشاله ورپېښه شي چې هغې ته د يو زورور مرستيال ضرورت وي يا د يو زورر سره ئې معامله راشي. په خپله د زورور مخه نۀ لري په داسې صورت کښې کمزورے کس يا فريق ننواتې ته مجبور شي.

د ننواتې د پاره يو وفد تيار شي. چې چا له ننواتې ورځي د هغې کور کلي هم اول نه معلوم کړي او دغه خبره هم کړي چې چا له په ننواتې ورځو هغه په کور موجود دے او کنه چرته لر بر خو نۀ دي تللي. د ننواتې د پاره دا لاندې خبرې ضروري دي.

- ❖ چې کوم کسان په ننواتې ځي د هغو نومونه اوټاکي
- ❖ د ننواتې د ايجنډې نه خبرول

❖ د پسونو یا ګډانو بندوبست کول چې په ننواتې ئې د ځان سره بیائي

د ننواتې څۀ خاص وخت نۀ وي معلوم ، خو په وزیرستان کښې اکثر ننواتې د ماښام نمانځۀ نه پس د ننواتې وفد خپله روانګي کوي. چې کله د ننواتې دغه وفد د هغې کس یا قوم یا شاخ کورونو ته اورسي نو هغه جماعت چې د هغې مشر او د خاندان د کسانو وي. چې چاله په ننواتي ورځې تپوس اوکړي بیا د جماعت مخې یا خوا او شاه دغه پسونه د وفد کسان حلال کړي. دا خبره ډېره ضروري ده چې هغه وفد چې په ننواتې راځي د پسونو د حلالولو د پاره د ځانو سره ضرور چاړې راوړي. چې کله د ننواتې وفد دغه پسونه حلال کړي د جماعت سره تعلق لرونکي خاندان ، قبیله یا د شاخ کسان ډېر په تېزۍ سره یو بل خبر کړي. دحلالولو نه علاوه د پسونو جوړول د غو کلي والو کار دے چې چاله ننواتې شوې وي. کلي وال ډېر په درناوي سره د ننواتې وفد کښېنوي. مشران ورسره ګپونه او خبرې اترې او ښۀ جوړ جاړې ورسره اوکړي. په خبرو خبرو کښې د ننواتې د وفد مشر د ننواتې د بنیاد پحقله پوره په تفصیل سره د مشرانو سره خبرې اوکړي. د کلي ځوانان او د کلي ښۀ بد پالونکي کسان د دغه پسونو پخلے اوکړي. اول اول د حلال شویو پسونو لاړمین ،غوښه او ډوډۍ د ننواتې وفد اوخوري بیا د هغې نه روستو کلي وال ښۀ په مړه ګېډه لړمانونه او غوښې اوخوري ولې چې څوک هم چا له په ننواتې پسونه حلالوي هغه ښۀ ثاربۀ او د غوښې ډک وي. نو د غوښو کمے نۀ وي. د ډوډۍ خوړلو نه پس د ننواتې وفد رخصت کړي. دا خبره ورته اوکړي چې مونږ کلي وال په خپل مینځ کښې سره مشوره کېږو. د ننواتې پحقله به ستاسو سره بیا په حال کېږو. په

سبا باندې د کلي مشران په يو مشورې سره متفق شي او د ننواتې وفد د هغې نه خبر کړي.

## د ننواتې فائدې:

د انسان په ژوند کښې تر ټولو نه ضرري نقصان ده او خطرناک څيز د دوي تر مينځ جنګ جګړې او کشالې دي. د يوې ټولنې هر ټول غړي هغه که نر دي او که ښځه ، ځوان دے که بوډا او که بچے دغه خپل منځي جنګ جګړې پرې ډېر بد اثرات غورځوي. ځنې ځنې ښۀ انسانان پکښې سرونه اوخوري. د هغې ښځې او بچي د سخت پرېشانۍ سره مخامخ شي. آن چې ډېر پکښې ذهني مريضان جوړ شي. نور کُل ئې د ډېرو پرېشانيو له وجې کند ذهن شي. د داسې خطرناکې بيمارۍ د پښتنو په ټولنه کښې علاج ننواتې ده. د ننواتې رول د پښتنو په خپل مينځ کښې د کشالو د ختمولو د پاره ډېر سودمند دے.

د څېړنې په دوران کښې يوه ورځ زۀ د کانيګرم سره نزدې کلے مومي کړم ته مير سلام استاد درامن خېل محسود سره مې مرکه کوله نو د ننواتې پحقله ئې ماته ډېرې ګټه ورې خبرې اوکړې. د دۀ د وينا مطابق "د پښتنو په ټولنه کښې پېغور د هغه تجم په شان دے چې د جنګ جګړې او فساد بوټي پېدا کوي او ننواتې هغه لور (درانتې) دے چې دغه بوټي رېبي" [۱۴]

## د ننواتې يو ځانګړے مثال:

دغه مثال ماته د نارتھ وزيرستان رزمک سيمې توري خېل چې عالم ، منصف او قومي مشر هم دے. راته بيان کړے ؤ.

"علي پور وزير د المير خان زوے ملک جان قتل کړلو. د هغې نه وروستو علي پور د مړي د جوړې په نيت هره هربه اوکړله ، خو ناکامه شوله. مطلب د قبر ننواتې ئې اوکړله. د پيرانو

صاحبانو او قومي مشرانو د علي پور په حق کښې ټول سفارشونه المیر خان نهٔ اومنل.

یوه ورځ د علي پور په کور کښې یوه ماڼۍ (بنګله) (چې دري چهتونه لري. د کور په مینځ کښې د دفاع د پاره جوړه وه) راپرېوتله. د زخمیانو نه علاوه څلور کسان پکښې مړهٔ شول. دغه ډېره غم ناکه او دردناکه واقعه وه. په دغې موقع باندې علي پور د قوم په مشوره او مرسته سره دغه څلور مړي سره د علي پور او قوم د المیر خان کورته په ننواتي یوړل. په دغې موقعې باندې المیر خان د علي پور او د قوم دغه ننواتې قبوله کړله. او علي پور ئې معاف کړلو. بیا د هغې نه وروستو قوم د دواړو په مینځ کښې رواجي جوړه اوکړه "۱۵"

## وراثت:

## د میراث د وېش دود:

میراث هغه زمکو ته وئیل کېږي چې د پلار نه خپلو زامنو ته پاتې وي. که چرې یو پلار خپل وراثت په خپلو زامنو په خپل ژوند نهٔ وي وېشلے نو د پلار د مرګ نه روستو د پلار وراثت په زامنو کښې وېشلے شي.

د وراثت پحقله یو ما د مولانا حامد رحیم سره مرکه اوکړه چې هغوي ئې دا لاندینے تفصیل پېش کړو.

"وزیرستان کښې د پلار وراثت صرف د هغهٔ په نارینه اولاد کښې وېشهٔ شي. ښځو ته د شرعي برعکس د میراث برخه نهٔ ورکول کېږي. هغه برخه چې د شرعي وېش له مخې د ښځو حق وي هغه هم نارینه وارثان له خپلو برخو سره یو ځاے کوي.

د میراث وېش عموماً د کلي د ملکانو یا ملایانو له خوا تر سره کېږي. کونډه ښځه که څهٔ هم د یوې خاص برخې حقداره نهٔ ده، خو تر هغه وخت پورې د خپل متوفي مېړهٔ په حق باندې ناسته وي چې د ډوډۍ او نفقې مستحقه وي. او د ښځې مال،

چې وزیر ئې په خپله ژبه بن سي بولي د هغې حق ګڼل کېږي. او د مېړهٔ وارثان په هغهٔ باندې د دعوٰی کولو حق نهٔ لري. د ښځې د مړینې وروستو که چرې هغه کوم اولاد نهٔ لري د هغې د مور او پلار دغه بن سي (مانځ) په دې پسې د خېرات په ډول ورکوي. که چرې په خپله ئې اوساتي ورته جائز دي.

د میراث یا د وراثت په‌حقله پرېکړه یا سپیناوے یو پلار د وصیت په وسیل کوي خو د پلار د مرګ نه روستو د پلار د وصیت په‌حقله شاهدان پېش کول ضروري دي هسې نه چې یو کس د زیاتې برخې لاس ته کولو د پاره د دروغو وصیت په کار راولي. که چرې کوم سړے وصیت اوکړي او مړ شي نو د هغهٔ وصیت په وزیرستان کښې ډېر کم عملي کېږي"[۱۲]

## د شریعت له لارې روغه جوړه:

په وزیرستان کښې د شرعي فېصلې کوونکي مولانا غېن الله قوم شابي خېل سکنه منزاره خېسوره سره مرکه د یوې اندازې مطابق مولانا صېب په وزیرستان کښې د شریعت تقریباً پنځهٔ زره معاملې فېصله کړې دي هغه وائي :

"چې کله په دوه کسانو یا دوه فریقېنو کښې کشاله رامینځ ته شي بیا منصف کوشش کوي او خپله خواري کوي چې د دوي په مینځ کښې جوړه اوکړي. په اوله مرحله کښې د دواړو نه واک یا اختیار اوغواړي. هغه په نیوزه وړای واک (فل اختیار) غواړي د اختیار نه روستو که معامله سخته وي بیا د فریقېنو نه د معاملې بیان په تحریري شکل کښې اوغواړي. اوس که معامله په تقسیم روغېږي په تقسیم ئې ختمه کړي ، لکه وئیل کېږي "الانتصاف غین الانصاف" که معامله په تقسیم هم نهٔ روغېږي بیا په یو طرَف ته څهٔ روپۍ کېږدي. که په دغې هم معامله نهٔ روغېږي بیا به ورته دوه نور کسان خوښ کړي. په هغه دوه کسانو کښې به یو قاضي وي بل منصف. منصف به د روغې

خواري کوي او د قاضي کار د کتاب دے. دلته بيا خبره په قسم باندې خلاصيږي خو په اصل کښې د قسم په ځاے د قسم فديه مقرره شي. که په قسم هم خبره ختمه نۀ شوه بيا قاضي د دعوٰی کولو حکم ورکړي. دلته د قاضي د پاره دغه خبره ډېره اهمه ده چې هغه مدعي او مدعا عليه اوپېژني ولې چې دواړه ځانګړي حقوق لري. د دواړو وضاحت کول دلته لږ ضروري دي. د مدعي نه دغه تپوس کېږي چې "تۀ څنې څۀ غواړې؟" د مدعا عليه نه د دغې خبرې تپوس کېږي "چې تۀ څۀ ورکوې او کنه؟" بيا که مدعي دعوٰی پرېږدي څوک ئې مجبورولے نۀ شي خو مدعا عليه مجبورولے شي چې فلانے څيز به خامخا راکوي. مدعا ته دغه حق هم حاصل دے چې تر څو پورې قاضي حکم نۀ وي کړے هغه که په قاضي باندې شکمن شي نو هغه معزولولے شي ، مدعي دعوٰی کوي او مدعا عليه د هغې ځواب ليکي (يا د دغو دفعه کوي) او د دعوې سره تعلق لرونکي شاهدان (دوه ګواهان) خبره ختمولے شي خو اکثر شاهدان په معيار شهادت کولو کښې عاجز وي. دغه تجزيه قاضي صيب پخپله کوي. که شاهدان عاجز وي په مدعا عليه باندې قسم راشي. بيا دغه (مدغه يئي؟؟؟؟) (د معاملې څيز. زمکه وغېره) د مدعا عليه شي او مدعي ته تعرض اوشي اوس څنې قرار شه "۱۷"

References


۱ ملک بادوم خان ولد بالے خان ، سکنه رزمک توري خېل ، شناختي کارډ شمېره: ۷-۱۲۵۰۵-۰۸۷۰۲۹۱

۲ همدغه بره اثر

۳ مولانا غښن الله صېب، منزاره کلے، خېسوره تحصيل تيارزه ، شناختي کارډ شمېره:۳-۱۲۲۰۱-۵۴۳۵۹۳۹

۴ ملک شاه بهرام توري خېل وزير، کلے رزمک ، شمالي وزيرستان، شناختي کارډ شمېره:۵-۲۱۵۰۵-۷۳۲۱۸۴۵

۵ شاه حسېن شابي خېل محسود، پرنسپل ګورنمنټ ډګري کالج جهنډوله، شناختي کارډ شمېره:۳-۱۲۲۰۱-۲۳۸۹۲۵۰

۶ اېډوکېټ خان ولي وزيرګای محسود، شناختي کارډ شمېره:-۲۱۷۰۲-۵۶۴۱۱۹۴-۱

۷ همدغه بره اثر

۸ خان زمان برکي ، رېټائرډ پرنسپل ګورنمنټ هائي سکول سام، سره مرکه ، شناختي کارډ شمېره :۹-۱۲۲۰۱-۱۸۸۴۲۲۴

۹ ملک مير نواز شاميرای، تحصيل لدها ، شناختي کارډ شمېره:-۲۱۷۰۲-۲۳۳۹۸۸۲-۵

۱۰ مير سلام درامنخېل محسود مانوځلے جنوبي وزيرستان، شناختي کارډ شمېره:۳-۲۱۷۰۵-۱۹۸۵۳۳۵

۱۱ فضل رحمان وزيرګاى سام، شناختي کارډ شمېره: ۹-۱۸۸۵۱۱۱-۱۲۲۰۱

۱۲ ملک مزمل خان لنګرخېل، جنوبي وزيرستان ، شناختي کارډ شمېره: ۱-۲۰۶۵۲۸۹-۲۱۷۰۲

۱۳ مير سلام درامنخېل محسود مانوڅلے جنوبي وزيرستان، شناختي کارډ شمېره: ۳-۱۹۸۵۳۳۵-۲۱۷۰۵

۱۴ همدغه بره اثر

۱۵ مولانا حسېن احمد صادق توري خېل ، رزمک شمالي وزيرستان ، شناختي کارډ شمېره: ۱-۲۵۷۷۳۲۴-۲۱۵۰۵

۱۲ مولانا حامد رحېم صېب ، کلے کانيګرم ، شناختي کارډ نمبر :-۱۲۲۰۱ ۱۸۸۳۲۰۵-۳

۱۷ مولانا غېن الله صېب، منزاره کلے، خېسوره تحصيل تيارزه ، شناختي کارډ شمېره: ۳-۵۴۳۵۹۳۹-۱۲۲۰۱